صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# اُرپانه



۱۱۱
شماره

د افغانستان اسلامي امارت، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست، د وياند دفتر، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: محرم الحرام ۱۲، کال ۱۴۴۸ هجري قمري

# عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی

## له لوري د هرات ښار ماسټر پلان منظور شو



د کور او ښار جوړولو وزارت د ملي جامع پلانونو او ښاري مطالعاتو رياست د متخصص او مسلکي ټيم له لوري، د هرات ښار ماسټر پلان د هر اړخيزو تخنيکي مطالعاتو، ساحوي ارزونو او د ښاري پراختيا د اړتياوو او ظرفيتونو له بشپړې څېړنې وروسته د يو کال په موده کې ترتيب شو...

۲

د الله جل جلاله په نصرت او د اسلامي امارت د مجاهدينو د قربانيو او سترياوو په برکت افغانان د بل هر وخت په نسبت، په ښه امنيت کې ژوند کوي. امنيت يو لوی الهي نعمت دی چې بايد له امله يې د الله تعالی دوامداره شکر ادا کړو.

**د عاليقدر اميرالمومنين حفظه الله تعالی له ويناو څخه**

# تداركاتو کمېسيون د شاوخوا ۳.۵ ميليارده افغانيو په لګښت ۱۶ پروژې منظورې کړې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د تداركاتو کمېسيون نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه.
دي غونډې ته ۴۰ پروژې د منظورۍ لپاره وړاندې شوې.
له بحث وروسته د شاوخوا ۳.۵ ميليارده افغانيو په ارزښت ۱۶ پروژې منظورې شوې او په ۲۰ پروژو کې يو لړ اړين تعديلونه منظور شول. همداراز د دوه پروژو په اړه تاکل شويو کمېټو ته دندې وسپارل شوې، څو د پروژو د قيمتونو په اړه له ګټونکو شرکتونو سره مذاکره ترسره او راپور يې د تداركاتو کمېسيون مشرتابه ته وړاندې کړي. د دوه پروژو قراردادونه له دې کبله لغوه شول، چې ګټونکي شرکتونه يې د قراردادونو مطابق تطبيق ته چمتو نه وو. دغه شرکتونه له همدې امله د محروميت کمېټې ته معرفي شول...

۵

# ديدار معاون اداری رياست الوزراء با مسئولين اداره تنظيم امور زندان‌ها

۲

# آغاز کار ۱۳۰ پروژه انکشافی به ارزش بيش از ۴۰ ميليون دالر در پنجشير

۵

# لوګر کې د يو ميليون ډالرو په ارزښت د کروماېټ ډبرو د پروسس فابريکه پرانيستل شوه



۵

# امضای ۲۵ تفاهم‌نامه همکاری ميان بخش خصوصی افغانستان و قزاقستان

۲

## د امارتي ادارو د لاسته راوړنو په انعکاس او د خلکو او حکومت ترمنځ د اړيکو په پياوړتيا کې د رسنيو رول

رسنۍ د خلکو او حکومت ترمنځ د اړيکو د پُل په توګه، د واقعيتونو، لاسته راوړنو او د امارتي ادارو د فعاليتونو په انعکاس کې مهم او اغېزناک رول لري. د دولتي ادارو د خدمتونو، پروګرامونو او پرمختګونو دقيق، شفاف او پر وخت اطلاع‌رسونه، د عامه پوهاوي د کچې د لوړولو ترڅنګ، د خلکو د باور د پياوړتيا او د هېواد د پراختيا او آبادۍ په بهير کې د هغوی د فعال ګډون لپاره مناسب زمينه برابروي. د امارتي ادارو د لاسته راوړنو مسؤلانه، عادلانه او بې‌طرفه انعکاس، نه يوازې ترسره شوي خدمتونه خلکو ته ورپېژني، بلکې د مسئولينو ترمنځ د لا غوره خدمت وړاندې کولو انګيزه هم پياوړې کوي او د حساب ورکونې او روڼتيا فرهنګ ته لا زيات وده ورکوي. له بلې خوا، رسنۍ د خلکو د نظرونو، وړانديزونو او اړتياوو په انعکاس سره د ټولنې او حکومت ترمنځ د رغنده خبرو اترو زمينه برابروي او د دواړو لورو ترمنځ د متقابلو اړيکو په ټينګښت کې ارزښتناک رول لوبوي. د رسنيو او امارتي ادارو ترمنځ نږدې همکاري، چې د رښتينولۍ، مسئوليت‌پالنې او ملي ګټو پر بنسټ ولاړه وي، د ملي يووالي، همغږۍ او د هېواد د هر اړخيز پرمختګ لپاره ښه بنسټ جوړولای شي. هر څومره چې اطلاع‌رسونه دقيق او له خلکو سره اړيکې پراخې وي، هماغومره به د خلکو باور زيات، د خدمتونو وړاندې کول به اغېزناک او د دوامدار پرمختګ لاره به لا هواره شي. مسئولې او ژمنې رسنۍ د واقعيتونو په انعکاس، د هيلې، يووالي او عامه پوهاوي د فرهنګ په ترويج سره، د خلکو او حکومت ترمنځ د باور او اړيکو د ټينګښت په برخه کې ارزښتناک رول ادا کوي او کولای شي د ټولنې د پرمختګ او هوساينې د مهمو بنسټونو په توګه، د يوې روښانه او سوکاله راتلونکې په جوړولو کې ونډه واخلي.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

# هېواد کې د ټولنيزو اصلاحاتو بهير چټک شوی

۲

## سرمقاله

# برق پايدار؛ زيربنای توسعه و پيشرفت افغانستان

پيشرفت چشمگير بخش دوم پروژه لين انتقالی ۵۰۰ کيلوولت ترکمنستان و رسيدن آن به بيش از ۹۰ درصد مراحل تطبيق، نويدبخش فصل تازه‌ای در توسعه زيربناهای انرژی افغانستان است. اين پروژه که از مهم‌ترين طرح‌های استراتيژيک کشور در حوزه انرژی به شمار می‌رود، نه تنها ظرفيت انتقال برق را افزايش می‌دهد، بلکه زمينه را برای تحول اقتصادی، صنعتی و اجتماعی در بخش‌های مختلف کشور فراهم می‌سازد.
انرژی برق در دنيای امروز يکی از اساسی‌ترين نيازهای توسعه به شمار می‌رود. هيچ کشوری بدون دسترسی به برق پايدار و مطمئن نمی‌تواند به رشد اقتصادی، توسعه صنايع، ايجاد فرصت‌های شغلی و بهبود خدمات عامه دست يابد. از همين رو، سرمايه‌گذاری در پروژه‌های بزرگ انتقال انرژی، در حقيقت سرمايه‌گذاری برای آينده کشور و رفاه شهروندان محسوب می‌شود.
پروژه لين انتقالی ۵۰۰ کيلوولت ترکمنستان از جمله طرح‌هايی است که می‌تواند بخشی از چالش‌های ديرينه افغانستان در عرصه انرژی را کاهش دهد. با تکميل اين پروژه، چندين ولايت کشور به ويژه کابل از برق پايدار بهره‌مند خواهند شد؛ موضوعی که تأثير مستقيم بر فعاليت کارخانه‌ها، مراکز توليدی، نهادهای خدماتی و زندگی روزمره مردم خواهد داشت.
اهميت اين پروژه تنها به تأمين برق محدود نمی‌شود. توسعه شبکه‌های انتقال انرژی، زمينه جذب سرمايه‌گذاری داخلی و خارجی...

۲

## سرمقاله

# برق پایدار؛ زیربنای توسعه و پیشرفت افغانستان

...را نیز فراهم می‌کند. سرمایه‌گذاران در گام نخست به وجود زیرساخت‌های اساسی، به ویژه انرژی مطمئن، توجه دارند. هرچه ظرفیت و پایداری شبکه برق کشور افزایش یابد، فرصت‌های بیشتری برای ایجاد صنایع، توسعه شهرک‌های صنعتی و رونق فعالیت‌های اقتصادی فراهم خواهد شد.


از سوی دیگر، تکمیل چنین پروژه‌هایی نشان‌دهنده توجه به توسعه زیربناهای ملی است؛ زیربناهایی که نقش بنیادین در خودکفایی اقتصادی و کاهش وابستگی‌های موجود ایفا می‌کنند. تداوم اجرای پروژه‌های بزرگ انرژی، حمل‌ونقل و مدیریت منابع آب می‌تواند مسیر توسعه پایدار را برای افغانستان هموار سازد و زمینه بهره‌برداری بهتر از ظرفیت‌های اقتصادی کشور را فراهم کند.

اکنون که بخش دوم این پروژه به مراحل پایانی نزدیک شده است، انتظار می‌رود روند تطبیق بخش‌های باقی‌مانده نیز با سرعت و کیفیت لازم ادامه یابد تا شهروندان هرچه زودتر از ثمرات این سرمایه‌گذاری بزرگ ملی بهره‌مند شوند. بی‌تردید، برق پایدار تنها روشنایی خانه‌ها را تأمین نمی‌کند، بلکه چراغ توسعه، تولید و پیشرفت کشور را نیز روشن می‌سازد.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په کابل کې د قطر له سفیر سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر دولت له سفیر ښاغلي مردف القاشوطي سره وکتل. د دې لیدنې پر مهال په افغانستان کې د قطر دولت پر پانګونې، د دواړو لورو ترمنځ د اقتصادي همکاریو په پراختیا او یو شمېر سیمه‌ییزو موضوعاتو په اړه بحث وشو.

# هېواد کې د ټولنیزو اصلاحاتو بهیر چټک...



...د امر بالمعروف، نهې عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت مسئولین وايي چې د ۱۴۰۵ کال په جوزا میاشت کې د ټولنې د اصلاح، د منفي دودونو د مخنیوي، د شخړو د حل او د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ترلاسه شوې دي.

د یاد وزارت د معلوماتو له مخې، محتسبینو په دې موده کې د ښځو د حقونو د خوندیتوب په برخه کې د هېواد په کچه ټولټال ۴۵۰ بېلابېلو قضیو ته رسېدنه کړې ده. په دې قضیو کې د میراث ۷۱، د ولور ۴۰، د کورني تاوتریخوالي ۲۱۶، د اجباري نکاح ۴۵، د نفقې ۲۹ قضیې شاملې دي. همدارنګه ۲۷ ښځو ته د شرعي نکاح زمینه برابره شوې او ۲۲ د طلاق قضیې حل شوې دي.

همدارنګه د خرافاتو او کوډګرو د مخنیوي په موخه، د وزارت محتسبینو په جوزا میاشت کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې ۴۵ کوډګر نیولي او د شرعي پرېکړې په موخه یې اړوندو ارګانونو ته سپارلي دي.


د اقتصادي نظم د ټینګښت په برخه کې بیا محتسبینو له سوداګرو او هټۍوالو سره ټولټال ۶۵۴ اصلاحي ناستې ترسره کړې دي، چې موخه یې د نرخونو کنټرول، د احتکار مخنیوی، د تاریخ تېرو توکو له منځه وړل، د سود او په ترازو کې د خیانت مخنیوی او بازار ته د باکیفیته توکو وړاندې کول بلل شوي دي.

د قومي او ژبنیو شخړو د حل په برخه کې هم یاد وزارت وايي چې په همدې میاشت کې ۵۵ لویې دښمنۍ او ۲۴۳ وړې شخړې حل شوې دي، چې هدف یې د ټولنیز یووالي پیاوړتیا او د تعصباتو مخنیوی بلل شوی دی. په همدې حال کې، محتسبینو د هېواد په کچه له قومي مخورو، دیني عالمانو، ځوانانو او عامو خلکو سره شاوخوا ۱۳۷۶ اصلاحي ناستې ترسره کړې دي، چې د اسلامي کلتور د خپرولو، د ناوړه دودونو د مخنیوي او د عامه ذهنیت د سمون لپاره ترسره شوې دي.

د امر بالمعروف وزارت مسئولین وايي چې دا اقدامات د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا او د ټولنې د اخلاقي اصلاح په موخه دوام لري.

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی

## له لوري د هرات ښار ماستر پلان...







...دغه ماسټر پلان د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري پیشنهاد او د ریاست الوزرا مقام له خوا تائید او د افغانستان اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له لوري منظور شو.

د هرات ښار ماسټر پلان له منظورۍ وروسته بېرته د کور او ښار جوړولو وزارت ته وسپارل شو، چې دمګړۍ په تخنیکي ارشیف کې خوندي او د یو لړ مراسمو په ترڅکې به د هرات ښاروالۍ ته وسپارل شي.

یاده ښاروالي به د دغه ماسټر پلان د تطبیق لپاره خپلې هلې ځلې پیل کړي، چې د کور او ښار جوړولو وزارت به یې د تطبیق له چارو څارنه هم کوي.

دا سند، د هرات ښار د ښاري پراختیا تر ټولو مهم ستراتیژیک چوکاټ بلل کېږي، چې د لنډمهال، منځمهال او اوږدمهال پرمختګ مسیر ټاکي او د ښاري پراختیا د اغېزناک مدیریت لپاره بنسټیزه زمینه برابروي.

دا ماسټر پلان په (۱۶۲۶۷۲) هکتاره ځمکه (۱۶۲۶ کیلومتر مربع) کې تطبیق کېږي، چې د هرات ښار اوسنۍ او راتلونکې مساحت په کې شامل دی.

په دې ماسټر پلان کې د هرات ښار اوسنۍ او راتلونکې اړتیاوې په بېلابېلو برخو کې په پام کې نیول شوې دي، چې په کې د بېلابېلو تراکمونو استوګنیزې سیمې، سوداګریزې ساحې، مختلطې سیمې، صنعتي، اداري، تعلیمي، روغتیایي، لوژستیکي، تفریحي او کرنیزې ساحې، د ښاري ترانسپورټ شبکې، شنې سیمې او همدارنګه تاریخي او فرهنګي ساحې شاملې دي.

د کور او ښار جوړولو وزارت وايي، د هرات د نوي ماسټرپلان عملي کېدل به د اقتصادي ودې، د کورنیو او بهرنیو پانګونو د جذب، د کاري فرصتونو د رامنځته کېدو، د ښاري زیربناوو د پراختیا او د هېواد د مهم فرهنګي، تاریخي او اقتصادي مرکز په توګه د هرات ښار د لا پیاوړتیا لامل شي.

د یادونې وړ ده، چې د کندهار او ننګرهار ولایتونو ماسټر پلان به په راتلونکو دوه میاشتو کې بشپړ او د منظورۍ لپاره هم وړاندې شي.

البته لا د مخه د غور، کونړ، او تخار ولایتونو لپاره د ستراتېژیک پلانونو پر جوړولو کار روان دی، چې ګام په ګام به بشپړ، تائید او وروستۍ منظوري ترلاسه کړي.

# امضای ۲۵ تفاهم‌نامه همکاری میان بخش خصوصی...



...در پی برگزاری مجمع تجارتی و اقتصادی افغان–قزاق و نمایشگاه محصولات و تولیدات افغانستان و جمهوری قزاقستان در کابل، ۲۵ تفاهم‌نامه همکاری میان اعضای بخش خصوصی دو کشور به امضا رسید.

این تفاهم‌نامه‌ها در نتیجه نشست‌های تجاری و دیدارهای رو در رو میان تاجران و سرمایه‌گذاران افغانستان و قزاقستان به امضا رسیده و زمینه گسترش همکاری‌های اقتصادی و تجارتی میان دو کشور را فراهم می‌سازد.

بر اساس معلومات ارائه‌شده، تفاهم‌نامه‌های یادشده حوزه‌های مختلف اقتصادی و تجارتی را در بر می‌گیرد که از جمله می‌توان به واردات و صادرات ادویه، سبزیجات، میوه‌های تازه و خشک، آرد، گندم، روغن خوراکی و کچالو اشاره کرد. همچنان بخشی از این توافقات به توسعه همکاری‌های بانکی و تسهیل مبادلات مالی میان فعالان اقتصادی دو کشور اختصاص یافته است.

امضای این تفاهم‌نامه‌ها گامی مهم در راستای تقویت روابط تجارتی میان افغانستان و قزاقستان دانسته می‌شود و انتظار می‌رود با اجرایی شدن آن‌ها، حجم مبادلات تجاری، سرمایه‌گذاری‌های مشترک و همکاری‌های اقتصادی میان دو کشور بیش از پیش افزایش یابد.

مجمع افغان–قزاق با هدف توسعه همکاری‌های اقتصادی، ایجاد فرصت‌های جدید سرمایه‌گذاری و گسترش ارتباطات میان بخش خصوصی دو کشور برگزار گردید؛ رویدادی که می‌تواند نقش مهمی در تحکیم روابط اقتصادی کابل و آستانه و ایجاد بازارهای جدید برای محصولات دو کشور ایفا کند.



# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با مسئولین ادارۀ تنظیم امور...

...بر اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوی هبة‌الله آخندزاده حفظه‌الله تعالی، هیأتی متشکل از اعضای کمیسیون تنظیم تشکیلات و معاشات تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با مسئولین ادارۀ تنظیم امور زندان‌ها نشستی برگزار نمود که در آن در مورد امور اداری و وضعیت محبوسین بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

در این نشست، امور اداری زندان‌ها، وضعیت صحی، مسائل حقوقی و شرعی تمامی محبوسین و همچنان بهبود خدمات اداری، تأمین حفظ‌الصحه و رسیدگی بهتر به امور زندانیان اعم از مرکز و ولایات مورد بررسی قرار گرفت. همچنان مسئولین مربوطه موظف گردیدند تا مطابق شریعت اسلامی و با در نظر داشت حقوق شرعی با محبوسین برخورد نموده و در راستای رسیدگی به نیازهای اساسی آنان و ارتقای نظم و شفافیت اداری، اقدامات عملی و جدی روی‌دست گیرند.

به همین ترتیب، محترم مولوی عبدالسلام حنفی به همراه هیأت متذکره در سیمیناری که از سوی ادارۀ تنظیم امور زندان‌ها برای مسئولین محابس ولایات برگزار شده بود نیز اشتراک کرد و طی یک سخنرانی بر موارد متذکره تأکید نمود.

# محتسبینو د هېواد په اوو ولایتونو کې ۲۶ مېرمنې له...

...د حقونو د خوندیتوب او پر وړاندې یې د ناوړه پېښو د مخنیوي په موخه ۲۶ مېرمنې له کورني تاوتریخوالي او ناوړه چلند څخه ژغورلې او خپلو شرعي حقونو ته یې لاسرسی برابر کړی دی.


د یاد وزارت د مسئولینو په وینا، دغو مېرمنو د خپلو خاوندانو او یا هم د کورنیو د ځینو غړو له لوري له ناوړه چلند او سختو کورنیو ستونزو سره مخ وې. د محتسبینو د هڅو او منځګړیتوب په پایله کې د هغوی ستونزې وڅېړل شوې او د شرعي اصولو له مخې ورته لازمې حللارې وموندل شوې.

مسئولین زیاتوي، د ژغورل شویو مېرمنو له ډلې ځینې د اوږدې مودې لپاره د خپلو خاوندانو د ناسم چلند له امله د پلرونو په کورونو کې پاتې او د خپل ژوند د راتلونکي په اړه له بې‌سرنوشتۍ سره مخ وې. د محتسبینو د هلو ځلو په پایله کې یادې مېرمنې بېرته له خپلو کورنیو سره یوځای شوې او خپل شرعي او قانوني حقوق یې ترلاسه کړل.

بلخوا، د یادو سیمو یو شمېر اوسېدونکو د محتسبینو فعالیتونه د ټولنیزو ستونزو او ناوړه پېښو د مخنیوي په برخه کې اغېزناک بللي او د ټولنې د اصلاح، د کورنیو شخړو د حل او د اسلامي ارزښتونو د پیاوړتیا په موخه یې د هغوی د هڅو ستاینه کړې ده.

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت ټینګار کوي چې د ټولنې د اصلاح، د کورنیو د ثبات او د وګړو د حقونو د خوندیتوب لپاره به خپل فعالیتونه لا پیاوړي او پراخ کړي.

PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
www.parmakhtag.af
Issue #111



Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
93+ (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af


Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# IEA Supreme Leader Endorses Herat City Master Plan



The Herat city master plan was prepared over one year by a professional technical team of the Ministry of Urban Development and Housing after detailed studies and field assessments.
The plan was proposed by the ministry, approved by the Prime Minister, and ultimately endorsed by the Supreme Leader of the Islamic Emirate of Afghanistan.
After approval, the master plan was returned to the ministry and is currently archived, with plans for formal handover to Herat Municipality.
The document is considered the most important strategic framework for Herat's urban...ContP#4


# 130 Development Projects Worth $40.5 Million Set to Begin in Panjshir



Bakhtar News Agency: The practical work on 130 new development projects worth a total of 40.5 million US dollars is set to begin in Rokha, Anaba, Hisa-e-Awal, and Bazarak districts of Panjshir Province, implemented by the DACAAR organization.
Governor of Panjshir, Haji Hafiz Mohammad Agha Hakim, in a meeting with DACAAR officials, welcomed the implementation of the projects and assured full cooperation from the local administration,...ContP#4

# Nationwide Social Reform Efforts Yield Significant Results

Officials of the Ministry of Vice and Virtue and Complaints Handling, say that significant achievements were recorded in the month of Jawza 1405 (June 2026) in areas such as social reform, prevention of harmful customs, dispute resolution, and strengthening Islamic values.
According to ministry, 450 cases related to women's rights were addressed during this period, including 71 inheritance cases, 40 dowry cases, 216 domestic violence cases, 45 forced marriage cases, and 29 alimony cases.
In addition, 27 women were provided with legal marriage arrangements and 22 divorce cases were resolved.
To combat superstition and witchcraft, 45 individuals accused of such practices were arrested across various provinces and handed over to judicial authorities.
In the economic sector, 654 reform meetings were held with traders and shopkeepers to control prices, prevent hoarding, eliminate expired goods,...ContP#4



# NPC Approves 16 Development Projects Worth 3.5 billion Afghanis

A regular meeting of the National Procurement Commission (NPC), chaired by Deputy Prime Minister for Economic Affairs Mullah Abdul Ghani Baradar, was held in Marble Palace.
Forty projects were submitted for approval.
After discussions, 16 projects worth approximately 3.5 billion Afghanis were approved, amendments were made to 20 projects, two projects were referred to committees for price negotiations with winning companies, and two contracts were canceled due to non-compliance by contractors. These companies were referred to the disqualification committee...ContP#4

# Afghanistan and Kazakhstan Private Sectors Sign 25 Cooperation Agreements



Following the Afghan–Kazakh Trade and Economic Forum and an exhibition of products from both countries held in Kabul, 25 cooperation agreements were signed between private sector members of Afghanistan and Kazakhstan.
These agreements were concluded through business-to-business meetings between traders and investors and are expected to expand economic and trade cooperation between the two countries...ContP#4

# IEA Supreme Leader Endorses Herat City Master...



...development, guiding short-, medium-, and long-term growth.
It covers an area of 162,672 hectares (1,626 square kilometers), including both current and future urban expansion.
The plan includes residential, commercial, mixed-use, industrial, administrative, educational, health, logistics, recreational, and agricultural zones, as well as transport networks, green spaces, and cultural and historical areas.
Officials say implementation will support economic growth, investment attraction, job creation, infrastructure development, and strengthen Herat's role as a major cultural and economic center.
Master plans for Kandahar and Nangarhar are expected to be completed within two months, while strategic planning work is ongoing for Ghor, Kunar, and Takhar provinces.

# NPC Approves 16 Development Projects Worth 3.5 billion...

...Approved projects include water reservoir dams in Badghis, geotechnical studies for Kelagai dam in Baghlan, completion of a 600-ton cold storage facility in Paktika, design and installation of 10,000-ton oil storage facilities in the Amu River basin, construction of a 50-bed hospital in Uruzgan, a cargo terminal in Tarinkot, road construction in Kabul city, and electricity distribution projects in various provinces. The projects will be funded by the Islamic Emirate of Afghanistan.

# 130 Development Projects Worth $40.5 Million...

...describing the initiative as an important step toward infrastructure development and improving the living conditions of residents.
According to the spokesperson of the Panjshir provincial authority, the meeting also discussed coordination mechanisms for project implementation between provincial leadership, the Department of Economy, and DACAAR officials.
The governor also emphasized the use of local labor during project implementation, highlighting its importance in creating employment opportunities and improving household incomes.
Meanwhile, the DACAAR provincial representative assured that thousands of job opportunities will be created for local residents through these projects.
The projects include road construction, irrigation canals, drinking water networks, check dams, and small hydropower units. After completion of technical and administrative procedures, implementation will begin soon. Local officials expressed hope that these projects will significantly contribute to infrastructure development, improved public services, job creation, and economic growth in Panjshir Province.

# Nationwide Social Reform Efforts Yield Significant...

...prevent fraud, and ensure quality goods in the market.
Regarding tribal and ethnic disputes, 55 major and 243 minor conflicts were resolved to strengthen social unity and prevent discrimination.
Furthermore, 1,376 reform meetings were held with elders, scholars, youth, and citizens nationwide to promote Islamic culture and prevent harmful customs.

# Afghanistan and Kazakhstan Private Sectors Sign 25 Cooperation...



...The agreements cover various sectors, including import and export of medicines, vegetables, fresh and dried fruits, flour, wheat, edible oil, and potatoes. Some agreements also focus on banking cooperation and facilitating financial transactions.
Officials said the agreements represent an important step toward strengthening trade relations, and their implementation is expected to increase trade volume, joint investment, and economic cooperation.
The forum aimed to enhance economic collaboration, create new investment opportunities, and strengthen private sector connections between the two countries.

# Water Reservoir Check Dam Commissioned in Ab Kamari District, Badghis



Bakhtar News Agency: The press office of the Badghis provincial authority has announced that the water reservoir check-dam project in Zow Valley, located in Zowpeda village of Ab Kamari district, has been completed and put into operation.
The project was implemented at a cost of 1,786,780 Afghanis and has a length of 23.4 meters. The check dam also has the capacity to store 3,752 cubic meters of water.
Officials say that the project was launched under the supervision of a provincial technical committee and completed in accordance with the contract and technical specifications. After completion, the evaluation and formal handover were also carried out by the assigned provincial committee.
According to officials, this check dam will play an important role in water resource management and storage, prevention of soil erosion and land degradation, strengthening natural resources, and improving the environmental situation of the area. They added that the implementation of this project will also help improve access to water resources, preserve surface water, and support agricultural activities in the region.

# Over 120 Greenhouses Operating in Ghor, Supplying Fresh Vegetables Daily

Bakhtar News Agency: Officials of the Department of Agriculture, Irrigation, and Livestock in Ghor Province report that greenhouse farming has expanded in the province, with more than 120 small and large greenhouses currently active in vegetable production.
They said these greenhouses supply hundreds of kilograms of fresh vegetables daily to local markets and play an important role in meeting market demand and increasing agricultural production.
Farmers in Ghor have welcomed the continued support of the agriculture department, saying that greenhouse development has improved income, strengthened livelihoods, and expanded agricultural activities.
Officials added that greenhouse expansion can significantly contribute to agricultural self-sufficiency, stable vegetable supply, and rural economic growth.

# تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا ۳.۵ میلیارده افغانیو په لګښت ۱۶ پروژې...

...په منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې د بادغیس ولایت د قادس خوردک د اوبو ذخیروي بند، د بغلان ولایت د کېله‌کې بند د جیوتېکنیکي مطالعاتو او په پکتیکا ولایت کې د ۶۰۰ مټریک ټنه په ظرفیت د سړې خونې د پاتې چارو بشپړول، د امو سیند نفتي حوزې د نفتو د زېرمه کولو لپاره د لس زره ټنه ظرفیت لرونکو تاسیساتو ډیزاین او نصب، د ارزګان ولایت په چهارچینو ولسوالۍ کې د ۵۰ بستریز عمومي روغتون جوړول، د ارزګان ولایت مرکز ترینکوټ کې د باروړونکو موټرونو لپاره د ترمینل جوړول، د کابل ښار یو شمېر داخلي سړکونو جوړول او په مختلفو ولایتونو کې د برېښنا رسوني او توزیع پروژو بشپړول شامل دي.
یادې منظورې شوې پروژې د افغانستان اسلامي امارت له بودیجې تمویلېږي.



## د سوېلي سالنګ د ۱۵ کیلومتره برخې د اساسي بیارغونې قرارداد...

...پلنوالی لري او د اسفالتي (قیر) بڼې په اساسي ډول به ورغول شي. په پروژه کې د ۵ نویو پلګوټو جوړول، د ۳۳ پلګوټو پراخول او د سړک یوې غاړې ته د ۶۰۰ مترو په اوږدوالي ویالې جوړول هم شامل دي، چې د سړک د تخنیکي معیارونو او د اوبو د مدیریت د ښه والي لپاره به مهم رول ولوبوي.
د ټولګټو وزارت د معلوماتو له مخې، د سالنګ لوېې لارې د اساسي بیارغونې چارې په درېیو برخو؛ سوېلي سالنګ، شمالي سالنګ او خنجان–دوشي کې پیل شوې دي، چې تر دې دمه د تونل، ګالریو او زیانمنونکو برخو په ګډون ګڼې برخې په درې طبقو کې په کانکریټي بڼه بیا رغول شوې دي.
د سالنګونو لویه لار د هېواد له مهمو ترانسپورتي او ترانزیټي شریانونو څخه شمېرل کېږي، چې شمالي ولایتونه له پلازمېنې کابل سره نښلوي او د خلکو د تګ راتګ ترڅنګ د سوداګریزو توکو او کرنیزو محصولاتو د لېږد په برخه کې حیاتي رول لري.

## د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د افغانستان لپاره د ایران سفیر...



...ده او له همدې امله د ایران جګړې پر مهال هم د افغانستان او ایران اقتصادي او سیاسي اړیکو دوام درلود او هېڅ ډول ځنډ پکې رامنځته نشو. د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبدالواسع د اسلامي او ګاونډیو هیوادونو په توګه د افغانستان او ایران اړیکي پیاوړې او نه بېلېدونکې یادې کړې.
نوموړي وویل، حتی د جګړې باوجود د دواړو هیوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتېدو وښوده، چې د ایران او افغانستان اقتصاد او امنیت سره تړلي دي.
محترم ډاکتر ملا عبدالواسع له ګاونډیو هیوادونو څخه افغانستان ته د افغان کډوالو ستنولو ته په اشارې وویل، ایران دې افغان کډوالو ته د اوسېدو او ستنېدو پر مهال سهولتونه برابر کړي او دا به زموږ د دوستۍ په پیاوړي کولو لا ډېر مثبت اغېز وکړي. د دې لیدنې په پای کې، علي رضا بیکدلي د ایران د پخواني مذهبي مشر شهید ایت الله علي خامنه اي د جنازې او تدفین په مراسمو کې د افغانستان اسلامي امارت محترم رئیس الوزراء او مل پلاوي ته د ګډون په موخه، محترم ډاکتر ملا عبدالواسع ته یو رسمي بلنلیک وسپاره.

## پروژه چکدم ذخیره آب در ولسوالی آبکمری ولایت بادغیس به بهره‌برداری...




...آژانس باختر: دفتر مطبوعاتی مقام ولایت بادغیس اعلام کرده است که پروژه چکدم ذخیره آب در دره زو، مربوط قریه زوپده ولسوالی آبکمری این ولایت، تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شده است.
این پروژه با هزینه یک میلیون و ۷۸۶ هزار و ۷۸۰ افغانی تطبیق گردیده و دارای ۲۳.۴ متر طول می‌باشد. همچنین این چکدم ظرفیت ذخیره‌سازی ۳ هزار و ۷۵۲ متر مکعب آب را داراست. مسئولان می‌گویند که کارهای اجرایی این پروژه تحت نظارت هیأت تخنیکی ولایتی آغاز شده و مطابق قرارداد و مشخصات تخنیکی به پایان رسیده است. پس از تکمیل پروژه، روند ارزیابی و تسلیمی آن نیز از سوی هیأت موظف ولایتی انجام شده است. به گفته مسئولان، این چکدم نقش مهمی در مدیریت و ذخیره‌سازی منابع آبی، جلوگیری از فرسایش و تخریب زمین، تقویت منابع طبیعی و بهبود وضعیت محیط‌زیستی منطقه ایفا خواهد کرد.
همچنین با بهره‌برداری از این پروژه، زمینه استفاده بهتر از منابع آبی، حفظ آب‌های سطحی و حمایت از فعالیت‌های زراعتی در مناطق مربوطه فراهم خواهد شد.

## په نوي کابل ښار کې د «صنایع سبز» صنعتي ښارګوټي اصلاحي پلان...

...د تخنیکي کمېټې د موندنو له مخې، په دې پلان کې د ځمکو د کارونې، د سړکونو د مسیرونو، عامه تاسیساتو او صنعتي ساحو اړوند موجودې ننګونې په هر اړخیز ډول ارزول شوې او د حل لپاره یې لازم تعدیلات او اصلاحات په پام کې نیول شوي دي.
همدارنګه، د عامه المنفعه تاسیساتو، خدماتي مرکزونو، شنو ساحو، برېښنا، اوبو رسولو شبکو، ترانسپورتي دهلیزونو او نورو ښاري اړتیاوو لپاره ځانګړې ساحې تثبیت او مشخصې شوې دي، څو د ښارګوټي راتلونکې پراختیا د معیاري او دوامدار ښاري پرمختګ له اصولو سره سمه پرمخ ولاړه شي. د اصلاحي پلان له مخې، د «صنایع سبز» صنعتي ښارګوټي لپاره شاوخوا ۱۶ میلیونه او ۳۰۲ زره مربع متره ځمکه ځانګړې شوې ده، چې د صنعتي فعالیتونو، تولیدي فابریکو او اړوندو اقتصادي پروژو د پراختیا لپاره به ترې ګټه واخیستل شي. سربېره پر دې، د عامه المنفعه، خدماتي او زیربنایي تاسیساتو د جوړېدو لپاره هم پراخې ساحې په پام کې نیول شوې دي. د کور او ښار جوړولو وزارت رهبري د دا ډول اصلاحي او پراختیایي پلانونو ترتیب او پلي کېدل د ښاري نظم د ټینګښت، د ځمکو د قانوني مدیریت، د کورنیو او بهرنیو پانګونو د جذب او د اقتصادي ودې د پیاوړتیا لپاره مهم ګام بولي او ټینګار کوي چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې به د معیاري ښاري پراختیا او منظمې ښار جوړونې بهیر په دوامداره توګه تعقیب او پیاوړی شي.

# لوګر کې د یو میلیون ډالرو په ارزښت د کرومایټ ډبرو د پروسس فابریکه...



...باختر آژانس: د لوګر ولایت په محمدآغې ولسوالۍ کې د صنعتي ښارګوټي ترڅنګ د کرومایټ ډبرو د پروسس یوه فابریکه د یو میلیون امریکایي ډالرو په ارزښت جوړه او په رسمي توګه ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
یاده فابریکه د «میتال ماینینګ» شرکت له لوري جوړه شوې، چې په ورځني ډول د شاوخوا ۵۰۰ ټنه کرومایټ ډبرو د پروسس وړتیا لري. د فابریکې د پرانیستې مراسم د لوګر ولایت د ملکي او نظامي مسئولینو، د کانونو او پټرولیم وزارت د استازو او د یاد شرکت د مسؤلینو په حضور کې ترسره شول.
د لوګر مرستیال والي محترم شیخ انعام‌الله صلاح‌الدین د فابریکې د پرانیستې پر مهال وویل، په لوګر ولایت کې د کانونو په برخه کې د پانګونې پراخ فرصتونه موجود دي او له پانګه‌والو یې وغوښتل چې د خپلو پانګوونې له لارې ځایي خلکو ته د کار زمینه برابره کړي.
د کانونو او پټرولیم وزارت د فلزي معادنو د تطبیق رئیس وویل، یاده فابریکه په عصري او پرمختللو ماشینونو سمبال ده او د کرومایټ ډبرو د پروسس په برخه کې به مهم رول ولوبوي.
همداراز، د لوګر د کانونو او پټرولیم رئیس وویل، دغه ولایت د کرومایټ ډبرو له پلوه بډای دی او دا مهال د پنځو نورو کانونو د استخراج چارې هم روانې دي.
بلخوا، د «میتال ماینینګ» شرکت مرستیال د ولایتي ادارې له همکارۍ مننه وکړه او ډاډ یې ورکړ چې شرکت به د هېواد د اقتصادي ودې او پراختیا په برخه کې له شته فرصتونو اغېزمنه ګټه واخلي. د مسئولینو په وینا، په نړیوال بازار کې د یو ټن غیر پروسس شوې کرومایټ ډبرې بیه شاوخوا ۲۰۰ امریکایي ډالرو ته رسېږي.

## آغاز کار ۱۳۰ پروژه انکشافی به ارزش بیش از ۴۰ میلیون دالر در...



...آژانس باختر: قرار است کار عملی ۱۳۰ پروژه انکشافی جدید به ارزش مجموعی ۴۰.۵ میلیون دالر امریکایی از سوی مؤسسه داکار در ولسوالی‌های رخه، عنابه، حصه اول و بازارک، مرکز ولایت پنجشیر، آغاز شود.
محترم الحاج حافظ محمدآغا حکیم، والی پنجشیر، در دیدار با مسئولان مؤسسه داکار، ضمن اعلام همکاری همه‌جانبه اداره محلی برای تسهیل و تطبیق این پروژه‌ها، از اجرای آن استقبال کرده و این برنامه را گامی مهم در راستای توسعه زیربناها، آبادانی مناطق و بهبود وضعیت زندگی باشندگان این ولایت عنوان کرد.
به گفته سخنگوی مقام ولایت پنجشیر، در این دیدار، رهبری ولایت با رئیس اقتصاد پنجشیر و مسئول ولایتی مؤسسه داکار، پیرامون چگونگی تطبیق پروژه‌ها و هماهنگی‌های لازم گفت‌وگو کرده است.
والی پنجشیر همچنین بر استفاده از نیروی کار محلی در روند تطبیق پروژه‌ها تأکید نموده و آن را عاملی مهم در ایجاد فرصت‌های شغلی و بهبود وضعیت اقتصادی خانواده‌ها دانست.
در همین حال، مسئول ولایتی مؤسسه داکار اطمینان داد که با آغاز کار این پروژه‌ها، زمینه اشتغال برای هزاران تن از باشندگان محل فراهم خواهد شد.
به گفته مسئولان این مؤسسه، پروژه‌های یادشده شامل اعمار سرک‌ها، کانال‌های زراعتی، شبکه‌های آب آشامیدنی، چک‌دم‌ها و دستگاه‌های کوچک تولید برق آبی بوده و پس از تکمیل مراحل تخنیکی و اداری، به‌زودی کار عملی آن‌ها آغاز می‌شود.
مسئولان محلی ابراز امیدواری کرده‌اند که تطبیق این پروژه‌ها نقش مؤثری در توسعه زیربناهای اساسی، بهبود خدمات عمومی، ایجاد فرصت‌های شغلی و رشد اقتصادی ولایت پنجشیر ایفا کند.

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
دفتر سخنگو
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

# ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
ویب سایت: www.parmakhtag.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## بهرنیو هېوادونو ته د اینجي د صادراتو او اړونده ستونزو د حل په اړه بحث وشو

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه.
په دې غونډه کې بهرنیو هېوادونو ته د اینجي طبي بوټي د صادراتو او په دې برخه کې د شته ستونزو د حل په اړه بحث وشو.
له بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ تاکل شوې کمېټه دې د یادې موضوع په اړه هراړخیزه څېړنه وکړي او خپل راپور دې له مشخصو وړاندیزونو سره یوځای اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.
اینجه د افغانستان د هغو طبي بوټو له ډلې ده چې په زیاته کچه بهرنیو هېوادونو ته صادرېږي او ډېری هېوادوال په هېواد کې دننه د دغه بوټي په کښت او راټولولو بوخت دي.
همداراز، دې غونډې ته په هېواد کې د رنګه فلزاتو د وضعیت په تړاو د ټاکل شوې کمېټې راپور هم وړاندې شو، چې د تخنیکي کمېټې له لوري د تایید وړ وبلل شو. دغه راپور د نهايي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.



## د سویلي سالنګ د ۱۵ کیلومتره برخې د اساسي بیارغونې قرارداد لاسلیک شو

د ټولګټو وزارت د سالنګ لوېې لارې د اساسي بیارغونې د چارو په دوام، د دې مهمې ترانزیتي لارې اړوند د سویلي سالنګ د ۱۵ کیلومتره سړک د اساسي بیارغونې قرارداد د مبارز برکتزي ساختماني او سړک جوړونې شرکت سره د ۱ میلیارد، ۲۵۲ میلیونه، ۷۸۳ زره او ۱۲۶ افغانیو په ارزښت لاسلیک کړ، چې د عملي چارو پیل به یې په نږدې راتلونکي کې وشي.
د ټولګټو وزیر محترم الحاج ملا محمد عیسی ثاني د قرارداد د لاسلیک پر مهال د قراردادي شرکت مسئولینو او تخنیکي ټیمونو ته وویل، چې د سالنګونو لویه لار د هېواد له مهمو اقتصادي او ترانزیتي لارو څخه ده او د دې پروژې د ښه او پر وخت تطبیق لپاره باید جدي هڅې وشي، خو چارې د ټاکل شویو معیارونو او تخنیکي مشخصاتو مطابق بشپړې شي. د معلوماتو له مخې، د دې پروژې یاد شوی ۱۵ کیلومتره سړک د اولنګ له سیمې څخه د جبل السراج تر ساحې پورې غځېدلی چې ۱۲ متره...

۵


## د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د افغانستان لپاره د ایران سفیر سره وکتل



د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع په کابل کې د ایران سفیر ښاغلي علي رضا بیکدلي سره په ارګ کې وکتل.
په پیل کې، محترم ډاکټر ملا عبدالواسع د ایران سفیر ته ښه راغلاست وواېه او د ایران او امریکا ترمنځ د جګړې پایته رسېدو لپاره په لاسلیک شوې هوکړې یې خوښي وښوده.
ښاغلي علي رضا بیکدلي د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکي تاریخي او ژورې وبللې او د جګړې پر مهال یې د افغانستان اسلامي امارت او ملت له ملاتړ او خواخوږۍ څخه د منښې ترڅنګ زیاته کړه، دا د ایران د دوستو هیوادونو مشترکه کامیابي...

۵

## په نوي کابل ښار کې د «صنایع سبز» صنعتي ښارګوټي اصلاحي پلان لاسلیک شو



د کور او ښار جوړولو وزارت له لوري، د نوي کابل ښار د «صنایع سبز» صنعتي ښارګوټي اصلاحي پلان د ټولو تخنیکي ارزونو، حقوقي مراحلو او لازمي سلا مشورې له بشپړېدو وروسته لاسلیک شو.
یاد اصلاحي پلان د نوي کابل ښار په مربوطاتو کې د «صنایع سبز» صنعتي ښارګوټي د ځمکو د کارونې د منظمولو، د ښاري زېربناوو د پراختیا، د ترانسپورتي شبکو د اصلاح، د عامه او خدماتي تاسیساتو د مناسب ځای پر ځای کولو او د معیاري ښاري اصولو د پلي کېدو په موخه ترتیب شوی دی...

۵

## ساخت بیش از ۱۲۰ گلخانه در غور؛ عرضه روزانه صدها کیلوگرام سبزیجات تازه به بازار



آژانس باختر: مسئولان ریاست زراعت، آبیاری و مالداری ولایت غور از گسترش فعالیت‌های گلخانه‌ای در این ولایت خبر داده و می‌گویند که بیش از ۱۲۰ گلخانه کوچک و بزرگ در بخش تولید سبزیجات فعال است.
مسئولان این ریاست می گویند که این گلخانه‌ها روزانه صدها کیلوگرام سبزیجات تازه را به بازارهای محلی عرضه می‌کنند و نقش مهمی در تأمین نیازمندی‌های بازار و افزایش تولیدات زراعتی ایفا می‌نمایند.
در همین حال، شماری از زارعین ولایت غور از همکاری‌ها و حمایت‌های دوامدار ریاست زراعت، آبیاری و مالداری استقبال کرده و ایجاد این گلخانه‌ها را گامی مؤثر در راستای افزایش عواید، بهبود معیشت خانواده‌ها و توسعه فعالیت‌های زراعتی در این ولایت عنوان می‌کنند.
مسئولان می‌گویند توسعه گلخانه‌ها می‌تواند نقش مهمی در خودکفایی تولیدات زراعتی، عرضه منظم سبزیجات تازه به بازار و رشد اقتصادی جوامع روستایی داشته باشد.

## پروژه چکدم ذخیره آب در ولسوالی آبکمری ولایت بادغیس به بهره‌برداری سپرده شد

۵

## محتسبینو د هېواد په اوو ولایتونو کې ۲۶ مېرمنې له کورني تاوتریخوالي وژغورلې



د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبینو د هېواد په ننګرهار، غور، زابل، نیمروز، جوزجان، کاپیسا او ارزګان ولایتونو کې د مېرمنو...

۲